احسان‌الله ارینزی

۲۰۲۳/۰۷/۱۶

# نړیوالې ټولنې

## ۶۳ برخه

**ب– هغه نړیوالې ټولنې چې ځانګړې واکونه لري**

**۷ -- د علمي او ټکنالوژيکي همکاريو په برخه کې د اسلامي کنفرانس دايمي کميټه Organization of Islamic Conference Standing Committee on Scientific & Technology Cooperation (COMSTECH):**

COMSTECH یو نړیوال تخصصی بنسټ دی چې د اسلامي کنفرانس هېوادونو یا OIC په درېيمه غونډه کې، په مکه (سعودي) کې، د اسلامي هېوادونو تر منځ د علمي او ټکنالوژيکي همکاريو له پاره جوړ شو. د COMSTECH مرکزي دفتر په اسلام آباد (پاکستان) کې دی او مشرتوب يې د دې هېواد د ولسمشر په غاړه وي.
اهداف: د OIC هېوادونو تر منځ د علمي – ټکنالوژيکي همکاريو پياوړتيا، د دې هېوادونو د وړتياوو جګول؛ د OIC د پرېکړو تطبيق او د علومو او ټکنالوژي په برخه کې د اسلامي هېوادونو د ظرفيتونو د لوړولو وړانديزونه د COMSTECH د جوړېدو له اصلي عواملو څخه دي. نور اهداف دا دي:

- د اقتصادي او ټولنيز پرمختګ او ژر صنعتي کېدو له پاره له علومو او ټکنالوژۍ څخه ډېر کار اخستل،
- د غړو هېوادونو د مالي او انساني سرچينو ځېرنه او علومو او ټکنالوژي ته اړتياوو پېژندنه،
- د ګډو هڅو او زيار له لارې، د علومو او ټکنالوژۍ په برخه کې د غړو هېوادونو د ميراثي يا وطني وړتياوو موندل او هڅول،
- د OIC هېوادونو د ستونزو د حل یا کمولو له پاره، په علمي او ټکنالوژيکي برخو کې د ګډ کار او متقابله مرستو ډېرول،
- په ملي، سيمه ييزو او نړيوالو برخو کې، د علمي او ټکنالوژيکي فعاليتونو د پلان جوړولو، ځېړنو، پراختيا او څار د يو مرکز جوړول.

COMSTECH له ډېرو نړيوالو بنسټونو او مراکزو سره نژدې اړيکي لري چې دا یی بیلګی دی:

- د علومو نړيواله اکاډمی TWAS،
- د OIC زده کړنيزه – علمي او فرهنګي ټولنه ISESCO،
- د علومو نړيواله اسلامي اکاډمی IAS،
- اسلامي پراختيا بانک IDB،
- د نړيوال ژوند چاپېريال امکانات او آسانتياوې GEF،
- د ملګرو ملتونو د ژوند چاپېريال پروګرام UNEP،
- د ملګرو ملتونو د پرمختيا پروګرام UNDP،
- د استاکهولم د علومو نړيوال بنسټ IFC،
- په منځني ختيځ کې د WHO سيمه ييز دفتر WHO-EMRO.
- فعالیتونونه:
- د زده کړنيزو ورکشاپونو جوړول او په غړو هېوادونو کې د داسې ورکشاپونو له جوړولو سره مالي مرسته،
- په علمي برخو کې د غړو هېوادونو د پوهانو ستايل او هڅول،
- په غړو هېواونو کې د علمي ځېړنو د مراکزو له جوړولو سره مالي مرسته[1]

**۸– د اقتصادي همکاريو او پراختيا ټولنه The Organization For Economic Co-operation and Development ( OECD)**

OECD یو بين الحکومتي اقتصادي ټولنه ده چې ۳۸ غړي لري او په کال ۱۹۶۱ کې د اقتصادي پرمختګ او د سوداګرۍ د ګرندي کولو له پاره جوړه شوه. د OECD غړي هېوادونه چې ځانونه ولسواکۍ او مارکيټ اقتصاد ته


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولۍ

ژمن بولي، غواړي چي له دې لارې خپلې تګلارې شريکي کړي، لويو عمومي ستونزو ته حلارې ومومي، برياللي پرمختګونه وپيژني او خپلي کورنی او بهرنی تګلارې سره همغږه وساتي. دا د نړۍ هغه هېوادونه دي چي ډېر جګ عوايد او ډېر مسلکي او متخصصه بشري ځواک لري چي High Human Development Index (HDI) بلل کېږي. OECD په ۱۹۶۱ کي په حقيقت کي د اقتصادي همکاريو د اروپايي شورى Organization For European Economic Co-operation (OEEC) ځای ونيو. OEEC د جوړولو فکر هغه وخت پياوړی شو، چي امريکا متحده ايالاتو وغوښتل د مارشال پلان له لارې د هغه اروپايي هېوادونو سره اقتصادي مرستي وکړي چي په دويمه نړيواله جګړه کي وران شوي او خپل اقتصادي ځواک يې له لاسه ورکړی و.

د امريکا متحده ايالاتو د وخت د بهرنيو چارو وزير، جنرال مارشال د کال ۱۹۴۷ د جون په ۵، په هاروارد پوهنتون کي وويل چي امريکا متحده ايالات غواړي له اروپا سره اقتصادي مرسته وکړي؛ خو شرط يې دا دی چي اروپايي هېوادونه هم، بايد د خپل اقتصاد د احيا، رغښت او پرمختګ له پاره ګډ پروګرام وړاندې کړي. امريکا متحده ايالاتو په هغه وخت کي، اروپا ته د اقتصادي مرستو تر څنګ، غوښتل چي لويديځي اروپا ته د شوروي اتحاد د ګواښونو مخه ونيسي او د شوروي د جنګي ماشين په مقابل کي، پياوړې اروپايي ملګرې ولري.[2]

په لومړي سر کي برتانيا او فرانسي داسي هڅې پيل کړې چي د جنرال مارشال د وړانديز په برخه کي، شوروي اتحاد هم له ځانه سره ملګرې کړي؛ خو ژر ښکاره شوه چي د شوروي اتحاد ګډون ګران دی؛ ځکه يي د کال ۱۹۴۸ په اپريل کي، په پاريس کي، د اقتصادي همکاريو غونډه جوړه او OEEC بنسټ کېښود.[3]

OEEC دنده درلوده چي د اروپا د مرکزي دفتر په توګه، په غړو هېوادونو کي د مارشال پلان د مرستو د لګښت څرنګوالی وڅاري، د يو سالم اروپايي اقتصادي سياست په جوړولو کي ستره ونډه ولري او غړي هېوادونه خپلمنځي همکاريو ته وهڅوي.

د کال ۱۹۵۹ د دسمبر په ۳۱ د امريکا متحده ايالاتو، فرانسي، برتانيا او جرمني فدرالي جمهوريت مشرانو، يوه ګډه اعلاميه خپره کړه او په هغه کي يې د اقتصادي همکاريو د اروپايي ټولني يا OEEC په ځای، د اقتصادي همکاريو او پراختيا ټولني يا OEEC د جوړېدو پرېکړه واوروله. دا بدلون ځکه پېښ شو چي OECD په ځان، ژر له نړيوالو بدلونونو سره عيار کاندي او بله دا چي غيراروپايي هېوادونه به هم که وغواړي غړيتوب تر لاسه کړي.

برتانيا، جرمني، فرانسه، ايتاليا، اسپانيا، بلجيم، سويټزرلند، دنمارک، ناروې، لوګزامبورګ، ايرلند، ايسلند، پرتګال، سويډن، هالند، يونان، اتريش او ترکيه د OECE لومړنی غړي وو؛ خو وروسته نور اروپايي او غيراروپايي هېوادونه لکه امريکا متحده ايالاتو او کانادا (۱۹۶۰)، جاپان (۱۹۶۴)، فنلند او سويډن (۱۹۷۱)، استراليا او نيوزيلند (۱۹۷۳)، هم ورسره يو ځای شول.

اهداف:

OECD دوه ډوله اهداف لري:

الف – د غړو هېوادونو په برخه کي،

ب – د پرمختيايي هېوادونو په هکله،

د غړو هېوادونو په برخه کي د OECD اهداف دا دي:

ډېره اقتصادي پراختيا او پرمختيا، د ژوندانه د سطحي ښه کول؛ په اقتصادي، تولنيزو او سياسي ډګرونو کي تلپاتې ثبات، لوړ استخدام او آزاده سوداګري.

د پرمختيايي هېوادونو په برخه کي هدف دا دی چي دواړه خواوې سمې او دوستانه اړيکي ولري.

OECD داسي چاپېريال برابر کړي چي دولتونه وکولای شي، د نورو هېوادونو اقتصادي سياستونه سره پرتله کړي او يا د عمومي مسايلو، ستونزو او سياستونو په برخه کي حلارې ومومي. OECD همدا راز له هېوادونو سره مرسته کوي چي د بېلابېلو هېوادونو سياسي تجربې وويني او د خپلو ملي او نړيوالو سياستونو په برخه کي همغږې راولي.

جوړښت: شورى، اجراييه کميټه او دارالانشا د OECD مهم اداره کوونکي ارګانونه دي.

شورى: شورى د غړو هېوادونو له استازو څخه جوړه ده، هر کال خپل منشي او نايب منشي ټاکي او پرېکړې د رايو په اتفاق وي.

اجراييه کمېټه: د غړو لسو هېوادونو له استازو څخه جوړه کمېټه، چي د شورى له خوا د يو کال له پاره ټاکل کېږي او د شورى پرېکړې عملي کوي.

دارالانشا: دارالانشا يو سرمنشي او دوه مرستيالان لري چي درې واړه د شورى له خوا، د يو کال له پاره په کار ګومارل کېږي او د اجراييه کمېټې او شورى له خوا ورسپارل شوې دندې سر ته رسوي .[4]

OECD دوه فرعي ارګانونه لري: د انرژي نړيوال اژانس او د مالي مرستو صندوق.

د انرژي نړيوال اژانس: دا اژانس په کال ۱۹۷۴ کي، د نفتو د نړيوال بحران او د بيو د لوړېدو سره د مقابلې له پاره جوړ شو.

د OECD ټول غړي هېوادونه د اژانس غړيتوب نه لري. اژانس خپلواکه دي؛ خو جلا حقوقي شخصيت نه لري، له همدې امله د OCDE په څنګ کي کار کوي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په څېر و لولئ

د مالي مرستو صندوق: دا صندوق د OCDE د ټولو غړو په ګډون، په کال ۱۹۷۵ کي په دې هيله جوړ شو چي د استقراض له لارې، هغه غړو هېوادونو ته پور ورکړي چي د خپلو تادياتو د انډول په برخه کي، له ستونزو سره مخامخ وي.[5]

OECD د خپلو پرېکړو د تطبيق ځواک نه لري. دا ټولنه د معلوماتو د خپراوي (مجلي او کتابونه او وېبپاڼي) لويه تجربه لري او غړو هېوادونو ته هر کال، د بېلابېلو برياليتوبونو او پرمختګونو په برخه کي درجي Ranking ورکوي.[6]

مقر: د OECD مرکز په پاريس (فرانسه) کي دی.

---

[1] سازمان پژوهش های علمي و صنعتي ايران، ويبپانه

[2] www.oecd.org

[3] www.oecd.org

[4] سازمان های بين المللی، داکتر محمد غفوری ، ص ۳۴۷-۳۴۶

[5] سازمان های بين المللی، داکتر محمد غفوری ، ص ۳۴۷-۳۴۶

[6] en.wikipedia,org/CECD



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ